

# دکلیسا په‌لومه‌کې...

ژباړن:
أستاذ سيف الرحمن مصعب

Scanned by Camera Scanner

# د کلیسا په لومه کې ...

ژباړن: أستاذ سیف الرحمن مصعب

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وشاریځ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

بسم الله الرحمن الرحيم

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وڅارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

Scanned by Camera Scanner

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

**د کتاب ځانګړني**

- **د کتاب نوم:** د کلیسا په لومه کې ...
- **منبع:** مؤسسة السحاب للإنتاج اللإعلامي
- **ژباړن:** أستاذ سیف الرحمن مصعب
- **خپروندویه:** استاذ یاسر فرهنګي او اجتماعي ټولنه
- **صفحه‌آرایي:** اکرام‌الدین "سعیدی"
- **چاپکال:** ۱٤۰۳ لمریز
- **چاپ وار:** لومړی
- **شمیر:** ۱۰۰۰ ټوکه

حقوق یې له خپروونکي اداري او ژباړن سره دي!!

Scanned by Camera Scanner

## د خپرندوی یادښت

ألحمد الله رب العالمین والصــلاة والســلام علی خیر خلقه محمد وآله واصحابه اجمعین:

د اســتاذ ســیف الرحمن مصـعب دغه کتاب «د کلیسـا په لومه کې» چې د جهادي شــخصـیت قدرمن اســتاذ یاسر د عربي مرکې پښــتو ژباړه، چې د الســحاب جهادي ســټوډیو لخوا په (۲۰۰۸) میلادي کې ثبت او خپور شــوی. دغـه مرکـه د تېر جهـاد یو لـه ارزښــتناکه اثارو څخه ده، چې د محترم اســتاذ یـاسر علمي او جهادي ژوند سفر پکې بیان شوی.

همدارنګه د محترم اســتاذ د لومړي دورې زندان حالات هم په کې بیان شــوی. زموږ په نظر دغه اثر پرته له دې چې د تېر جهاد زرین تـاریخ برخـه ده، بلکې یو دعوتي او تربیتي درس دی، چې زموږ ځوان نسل د تربیې لپاره ډېره مفیده ده.

په همدې اسـاس موږ د محترم اسـتاذ سـیف الرحمن دغه زیار ستایو او په دې لار کې ورته د لا توفیق غوښتونکي یو.

استاذ یاسر فرهنګي او اجتماعي ټولنه

٦ د شعبان ۱۴۴۵ هـ، ق

Scanned by Camera Scanner

# سریزه

ألحمد الله الذي مَلَأَ قلوبنا بالإيمان وزين أخلاقنا بالقران والصلاة والسلام على نبينا محمد (صلى الله عليه وسلم) أما بعد:

په یوه مسلمانه ټولنه کې د ښو انسانانو کړنې ځکه لیکل کیږي ترڅو یاده ټولنه ویښه او مقدسات يې خوندي پاتې شي نو ما هم وغوښتل چې د قدرمن استاذ هغه مصاحبه چې د یوه ایټالیوي په مقابل کې له زندان څخه تر آزادېدو وروسته په ۲۰۰۸م کال کې داګست په اتمه نېټه له (مؤسسة السحاب للإنتاج اللإعلامي) عربي رسنۍ سره په عربي ژبه تر(اللقاء الأول مع الشيخ الأستاذ محمد یاسر حفظه الله بعد خروجه من السجن في التبادل مع الأسیرالإیطالي) عنوان لاندې ترسره شوې وه په پوره اخلاص او امانت دارۍ مې پښتو ژبې ته وژباړله او دیوه کتاب په شکل مې چمتو کړه.

نو په یاده ژباړه کې که چېرته زما نه کومه تېروتنه شوې وي له ټولو مؤمنو وروڼو څخه مې هیله ده چې په پوره اخلاص راته ښښنه وکړي.ځکه (لا یکلف الله نفسا إلا وسعها)

په درنښت

د مرکز النیل عمومي مدیر

أستاذ سیف الرحمن مصعب

Scanned by Camera Scanner

## ډالۍ

خپلو ورڼو ته

چې عربي ژبه یې په

هېواد کې لکه تخم داسې وشیندله.

Scanned by Camera Scanner

## یو څو خبرې

قدرمنه لوستونکیه زما موخه دکتاب عنوان خورا ډېره څرګنده کړې ارتیا نشته چې د عنوان په اړه ډېرې خبرې وکړم خودا وایم چې د هېواد هر مؤمن زلمی باید دا کتاب په غور سره مطالعه کړي.

له مودو راهیسې به ساعت ته ناست وم هره لحظه به مې شمېرله چې ترڅو زر وخت تېر شي او زه خپل خوب په داسې توګه په حقیقت بدل کړم چې دټولنې ځوانانو ته یوه بېلګه پاتې شي او هر یو یې لوستلو ته لېوال وي الحمدلله نن هغه وخت راورسېد.

د لوېدیځې نړۍ فکري جګړې به زه ډېر سخت دردولم ځکه په وسلوال جهاد کې به چې کله دملګرو سره مخ شوم دوی به ماته په دې ټینګار کولو چې زه په ښار کې پاتې شم، او په ښار کې هغه وخت د یوځوان خپلواک پاتې کېدل خورا سخت کار وو، ځکه کابل پوهنتون دځوانانو لپاره دبې لارۍ یو نړیوال مرکز وو، په سلګونه ځوانان او پېغلې په پوره جرات سره پکې بې لارې شول او کېدای شي یو څوک داسې فکر وکړي چې ګواکي زه دروغ وایم

Scanned by Camera Scanner

ټول داسې نه وو مګر تر کومې کچې چې ما لیدل ډېری یې بدل شوي وو، زه داطراف نه نوی بریالی شوم کله چې کابل پوهنتون ته په لومړي ځل داخل شوم لوڅ سرې نجونې او فیشني هلکان مې ولیدل یوه نجلۍ وه دهلکانو سره یې دکرکټ په میدان کې بالینګ کولو بیخي په بل حال شوم له ځان سره مې څو ځله وویل دچا زوی یې او چېرته ګرځې، کله چې ټولګي ته لاړم خپلې ټولګیوالې نجونې مې ولیدې هلته هم حالت بل ډول وؤ په ټولګي کې استاذ ولاړ وو ویل یې په نوبت خپل ځانونه معرفي کړئ کله چې زما نوبت راورسېد پورته شوم ټولو زما خواته کتل ما ویل زه سیف الرحمن دوردګو ولایت نه، چې کله مې د ولایت نوم واخیست په ټوکه کې یې راته ویل ای خدای د ووهه چې تا به څومره ماینونه خښ کړي وي. سبا ته به هرو مرو پتلون آغوندې دا خبره نو بیخي راباندې وغمېده ما له ځان سره وویل چې هغه زما مطالعه، دانقلابي ژوند خبرې، فلسطین او عراق ته د جهادي سفر خوبونه داټول لکه چې په اوبو لاهو شول، ډېری ځوانان همداسې شرابي فارغ شول ځکه دکتابتون پر ځای به دوی قیلون خانې ته تلل هلته به یې بنګ ځنبل یو تعداد به له پردیو نجونو سره په چمن کې ناست وو خنداګانې به یې کولې چې د دې حالت په لیدوسره به د راسخې عقیدې واله ځوانان له ښاره وتل ځانونه به یې داستشهادیانو په قطار کې ثبت کړل دلوڅې او ډمې دیموکراسۍ په وړاندې به یې رېښتینې مبارزه پیل کړه.

نو حالاتو به زه ډېر دردولم ځکه له وسه مې څه نه کېدل چې زه ځوانانو ته د غښتلي مجاهد استاذ یاسر درسونه دکتاب په شکل وړاندې کړم تر څو دوی له دغه عبرتناکو درسونو څخه برخمن شي دوخت کلیسایي حکومتولۍ داسې ډول فعالتونه ډېر زر له منځه وړل ځکه دا د کلیسایي فکرې په وړاندې یوه غښتلې او اغېزناکه مبارزه وه، الحمد لله نن هغه وخت راورسېد چې زه دخپل استاذ خبرې له عربي ژبې څخه پښتو ژبې ته وژباړم او د (د کلیسا په لومه کې) تر دې عنوان لاندې یې په مینه او ادب سره دهېواد مؤمنو زلمیو ته دکتاب په شکل وړاندې کړم.

او په پای کې لومړی دخپل مشر استاذ نه نړۍ مننه چې زما سره یې ډېرې هلې ځلې وکړې ډېر زحمتونه یې راسره تېر کړل سره له دې چې ما یې له اوامرو نه ډېرې سرکشۍ وکړې خو بیا یې هم دعربي ژبې یوځوان استاذ وروزلم او دجهاد لاره یې دقرآن په ژبه راته په پوره فصاحت او بلاغت سره بیان کړه او خپلواک یې کړم، وثانیاً له ټولو خوږو ملګرنه په ځانګړې توګه له قدرمن مجاهد سمیع الله شهیدمل نه چې زه یې دې کار ته ډېر وهڅولم حتی داسې وخت هم راغلی چې ماته به یې ټاور ته ډوډۍ راوړله او په ټاورکې به ده پیره کوله ما به ترجمه کوله نو له یادو خبرو نه مې موخه دا وه چې د کتاب په ژباړه کې مو ډېره خواري کړې ده.

## ګیله

یوه ورځ د کتاب د چاپ په پار د کلتور وزارت ته ولاړم غوښتل مې همدغه کتاب ته ISBIN نمبر واخلم تر څو د لیکوالۍ نړیوال اصول مراعات کړم خو کله چې هلته ولاړم زما نه د نشـراتو د معینیت اړونده اداره کې کتاب واخیستل شو او راته ویې ویل چې پینځه ورځې وروسته راشه موږ به کتاب کمسیون ته ولیږو هغوی به ستا د کتاب په اړه پلټنه وکړي او ورسته به بیا د کاپیرایټ آمریت درته ISBIN نمبر ولګوي، نو په کتاب یوه نیمه هفته تېره شوه وروسته چې ورغلم په آمریت کې یې راته ویل ګرانه ستا په کتاب کې بعضې ملاحظات لیدل کیږي نو موږ باید ستا سره په دې اړه یو ځانګړی مجلس ولرو خو د ملاحظاتو د شریکولو لپاره یې ماته کومه ورځ ونه ټاکله هره ورځ به ماته ویل کېدل چې نن راشه او یا سبا راشه وروسته زما د ځوانۍ صبرانه هم ختمه شوه سیده د نشراتو معین ته ورغلم چې ځان یې د کابینې یو مهم غړی بللو اول خو مې شپږو کسانو ته زنګونه وکړل چې د معین سکرتر ته یې ور واسطه

کړم تر څو اجازه راکړي چې د ښاغلي معین سره ووینم بلاخره لاره مې پیدا کړه ورغلم د معین صاحب سره مې یاده موضوع شریکه کړه حاجي معین صاحب مبارک داسې راته وفرمایل.

ګران استاذ یاسر د همغه وخت لپاره یوه لویه هستي وه ډېر ځوانان یې جهاد ته وهڅول خو اوس د استاذ یاسر په همغه اقوالو داعشیان استناد کوي نو زما په اند که دا نشر نشي ښه به وي...

نور هم ډېر وغږېدا راته خو ما وانه ورېدې وروسته مې ورته وویل ښا قدرمن معین صاحب ماته کوم خدمت نشته ده میز ته لاس کړ د خپلو کارنامو کتاب یې راته ډالی کړ کله مې چې د ده کتاب ولید نو ده تر ډېره خپل صفات پکې راټول کړي وو. نو ما له ځان سره وویل چې پیکا خو ما هم په اوږه ګرځولې بوشکې مې هم خښې کړېې خو دا چې په خلکو باندې خپل کړی جهاد نه خرڅوم هغه د استاذ یاسر د ویناوو برکت دی.

باوري یم که چېرته یاد معین صاحب دغه کتاب ولولي خامخا به یې په خوی او خصلت کې یو بدلون راځي زما په شان د بل ځوان فکر سره به بیا داسې رویه ونه کړي ځکه استاذ یاسر د الله ولي وو. د الله د ولیانو په کراماتو کې شک نشته.

نطاق:

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی رسول الله و علی اله و صحبه اجمعین وبعد؛

خوشحاله یم چې له ښاغلي استاد محمد یاسر سره وروسته له زندان څخه تر آزادېد لو لومړی ځل وینم او ورسره گورم. استاد پخیر راغلئ زموږ برنامې ته!

استاد یاسر:

الله مو ژوندي لره، په عزت اوسئ!

نطاق:

که له دې څخه یې را پیل کړو چې تاسو په پاکستان کې څنگه ونیول شوئ، کابل ته څه وخت انتقال شوئ او د کابل حکومت غوښتنه څه وه له تاسو څخه؟

استاد یاسر:

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین اما بعد؛

لومړی مننه کوم له تاسو او ستاسو له کارکونکو څخه چې ماته مو دا فرصت راکړ، تر څو ستاسو دچینل له لارې خپلو مسلمانانو وروڼو ته خبرې وکړم. هغه وروڼو ته چې زما خبرې اوري، ټولو مجاهدینو وروڼو ته چې په رأس کې یې امیرالمؤمنین ملا محمد عمر المجاهد قرار لري، ټولو جهادي قوماندانانو ته که هغوی په خندقونو کې دي او کړنگونو کې دي، هغو بندیانو وروڼو ته، چې د

Scanned by Camera Scanner

طواغیتو د کړکیو شاته مې پرېښودل، او ټولو هغو ورونو ته چې د دعوت او جهاد په سخته مرحله او ځای کې قرار لري خپلې نیکې هیلې او سلامونه وړاندې کوم:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو د پوښتنې په تړاو به ووایم: زه په پاکستان کې د هجرت په دیار کې هغه کمپ ته نږدې د پاکستاني ځواکونو له خوا له خپلو اولادونو او کورنۍ سره ونیول شوم، په کوم کمپ کې چې زما کور وو، هغه په پېښور کې د نوښار سیمه وه. بیا یې انتقال کړم اسلام آباد ته او له هغه ځای څخه یې د پنډۍ جیل ته ولیږلم. په پاکستان کې ما درې میاشتې تیرې کړې، بیا یې د کابل ادارې ته وسپارلم، په درویشتمه روژه یې زه کابل کې کوز کړم، د کابل ادارې ښه چلند راسره وکړ، ځانګړې کوټه یې راکړه او وروسته له دوو ورځو یې دا خبره راته وکړه، چې اختر به په خپل کور کې تیر کړې(وروسته له یوې هفتې به ته خوشې کیږې) خو فقط دا ژمنه راسره وکړه چې بیا به زموږ په وړاندې مخالفت نه کوې! دا د عامو مسلمانانو په نظر ډېره ساده ژمنه ده. نو ما ورته وویل: چې رسول (صلی الله علیه وسلم) خو داسې ژمنه د پاچاهۍ په مقابل کې ونه منله، تاسو یې پر ما بې پاچاهۍ دیو ساده شي په مقابل کې قبلوئ!؟

نو ورته ومې ویل: والله چې شل کاله مې زنداني کړئ، که داسې ژمنه درسره وکړم.

ما ورته وویل: زه له تاسو څخه ډېره ساده غوښتنه کوم: ماته هغه حق راکړئ چې ابوجهل رسول (صلی الله علیه وسلم) ته اعتراف

Scanned by Camera Scanner

پرې کړی وو، هغه څه راکړئ چې ابوجهل رسول (صلی الله علیه وسلم) ته ورکړل! دوی راته وویل: څه یې ورکړل؟

ما ورته وویل: هغه حق دا وو چې رسول (صلی الله علیه وسلم) یې دعوت ته پرېښود، د حج کولوپر وخت کې یې د خبرو کولو حق ورکړ. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به چې خلکو ته څه ویل، خلکوبه د ده خبرې منلې تابعداري یې کوله او ابوجهل به خلکو ته ویل: دا سړی لیونی دئ، د دې خبرو ته غوږ مه نیسئ!

نو ما ورته وویل: ما پرېږدئ چې زه خبرې وکړم، تاسو هم زما خبرې ځواب کړئ او رد یې کړئ. زه له تاسو نه هیڅ نه غواړم، خو د خبرو کولو او دعوت آزادي(حرية‌الکلام) غواړم، هغه څه چې تاسو ته ډېر زور درکوي. فقط دغه یوې خبرې ته مې پرېږدئ، هغه دا چې زه وغږېږم او خلک یې واوري!

نطاق:

د دوی موقف څه وو، دوی څه ویل؟

استاد یاسر:

وروسته دوی د یوه نشراتي ارگان(تلویزیون) راوست او زما سره یې مخامخ کړ، نو ما هغوی ته وویل: آیا زما خبرې تاسو نشروئ؟ دوی وویل: هو ولې نه! بیا ما ورته وویل: چې سمه ده، خو دا ژمنه به راسره کوئ چې کوم تغیر به نه پکې راولئ! ویل: سمه ده.

بیا وروسته له مرکې او خبرو له ثبت څخه د استخباراتو مسؤل راغی او راته یې وویل: ته دې خپل مسؤلیت/دنده پیژنې؟ ویډیو یې بنده کړه او زما له خبرو نه یې هیڅ یوه خبره نشر نه کړه.

هغه وخت ما دوي ته په زندان کې تر اخري لحظو ورته ویل چې په ښکاره او څرګند ډول مې د خلکو او رسنیو په مخ کې محاکمه کړئ، خو حریة الکلام (د خبرو آزادي) را کړئ!

دوی هیڅ ځواب رانه کړ، اوس هم له دغه ممبره دا خپل چلینج ورته تکراروم او له دوی نه دا فرصت غواړم چې د خبرو آزادي راکړي د خلکو او ټولې نړۍ په مخ کې زه حاضر یم ورته.

نطاق:

ان شاء الله هر څه چې غواړئ له دغه ممبر نه یې ورته ورسوئ، دا ستاسو په خدمت کې دئ. اوقدرمن شیخ صاحب دا خو هغه څه وو چې د کابل حکومت درنه غوښتل، که د پاکستان د جیل له دوران نه راته ووایئ چې هغوی څه درسره وکړل؟

Scanned by Camera Scanner

استاد یاسر:

د پاکستان په اړه به ووایم، چې د پاکستان په وس کې کوم ځانګړې شی نه وو، مګر دا چې د خپل بادار (امریکا) له خوا به امر ورته کیدلو او دوی به اجراء کولو. دوی زه مخکې له مخکې نه پیژندلم.

په جیل کې د تحقیق پر وخت ما د دوی د هیئت له یوه مشر نه پوښتنه وکړه، ما ورته وویل: هغه وخت چې د روس او سوسیال سره مې جګړه کوله تاسو د پاکستان د دیپلوماسۍ جواز راکړی وو او د پاکستان د میلمه په توګه ولاړم په سپینه ماڼۍ کې کوز شوم او د امریکا خلکو د یوه وزیر په توګه زما استقبال وکړ، تاسو به قهرمان راته ویل، د مجاهد په نامه مو یادولم، نو کله چې په خپل وطن د امریکا د اشغال مانع یم، ولې تروریست شوم؟ نو دوی به نه تنها په دې ځل، بلکې په هره مناقشه کې راته ویل: موږ وبخښه! موږ مجبور یو! اوس زموږ له وسه څه نه کیږي!

نطاق:

شیخ صاحب راځو د جهاد مرحلې ته چې په لنډه توګه یې راته بیان کړئ، هغه څنګه مرحلې وې؟

Scanned by Camera Scanner

استاد یاسر:

الحمد لله زما د جهاد ابتداء د ځوانۍ په لومړیو مراحلو کې وه، هغه وخت چې زه په پوهنتون او مکتب کې وم نو ما جهاد شروع کړ چې دا تقریباً له ۱۹۶۹ نه تر ۱۹۷۴ میلادي کلونو پورې تقریباً څلور پنځه کاله دا هغه مرحله وه چې جهاد مو پکې شروع کړ. کله به مو مظاهرې کولې او کله به مو د محصلینو تر منځ ګډې حلقې جوړولې په دې وخت کې داسې هم پېښېدله چې له پولیسو سره به چاقو باندې جنګ وکړو او یا په لرګیو ورسره ووهو، دا زموږ د جهاد لومړۍ مرحله وه. په دې مرحله کې مود کمونیستي فکر خاوندانو سره هم مناقشې کولې، هغوی به د اسلام خلاف خبرې کولې او موږ به له هغو نه دفاع کوله چې دا د جهاد اول کار او اوله مرحله وه.

دوهمه مرحله د هجرت وه چې له ملګرو سره مو د پاکستان په لور هجرت وکړ په کال ۱۹۷۴ میلادي کې او له هجرت نه یو کال وروسته مو د داوود خان د حکومت پر وړاندې نظامي مبارزه اعلان او پیل کړه، نو د دې تعبیر داسې کوم چې دا زما د نظامي مبارزې لومړی کال وو. یعنی د هجرت له اول کال ۱۹۷۴م نه تر ۱۹۷۹ میلادي کال پورې، دا مو د جهاد دوهمه مرحله وه، چې د ملت نه چا ډېره برخه راسره پکې وانه خیستله، په دې مرحله کې فقط د اسلامي حرکت ځوانان وو او علماوو مشارکت وکړ، نور د عامو خلکو نه کوم څوک راسره نه وو. حتی موږ تر ډېره چا نه پیژندلو

Scanned by Camera Scanner

چې دا مجاهدین دي، ځکه دوی ته دا نه وه روښانه چې موږ څوک یو اوڅه کوو نو دا مو د جهاد دوهمه مرحله وه.

دریمه مرحله د نور محمد تره کي او حفیظ الله امین ده، چې دوه نیم کاله یې دوام وکړ.

څلورمه مرحله له هغه وخته شروع کیږي چې کله د کارمل په وخت کې سوسیالیستي ځواکونه راغلل، بیا د روس په وتلو ختمیږي. په دې مرحله کې ټول ملت له موږ سره ګډون وکړ، د افغانستان ټول ملت راسره ودرید، هره طبقه جهاد ته داخله شوه، ځکه دوی دا درک کړې وه چې دا اشغال دئ او د دوی پر خلاف جهاد فرض دئ، چا په دې کې اختلاف نه کاوه، بغیر له کمونیستانو.

بیا وروسته له دې پنځمه مرحله هغه وه چې کله روسان ووتل، ډیری کسانو به ویل: چې روسان ووتل اوس له شعیویین(کمونیستان) سره مقابله کوو، چې دا مرحله د کابل له فتحې نه مخکې مرحله وه. البته هره مرحله له بلې سره توپیر کوي.

وروسته بله مرحله(شپږمه) زموږ داخلیدل وو کابل ته چې دا مرحله د کابل د فتحې په نوم یادیږي. بله مرحله چې کله موږ وزیران او حاکمان وو په کابل کې دا بله مرحله وه. بیا د د طالبانو په لاس درباني دحکومت را نسکوریدل دا بله مرحله وه. له دې وروسته د طالبانو حاکمیت پر کابل دا بله مرحله وه. د طالبانو نه وروسته د امریکا پر ضد جهاد چې اوس پکې قرار لرو، دا بله مرحله ده.

Scanned by Camera Scanner

نه پوهېږم چې څومره مرحلې تیرې شوې، خو ټولې مرحلې یو له بل سره توپیر لري، بعضی ښېګنې لري، بعضې یې نه لري.

نو رښتیا زه ۳۵ کاله په جهاد کې اوسېدلی یم او ۲ اوليني کلونه چې ورسره یو ځای کړم ۳۷ کاله کیږي. په ۱۹۹۲ میلادي کال کې وزیر شوم بیا مې استعفا وړاندې کړه او دغه هغه کلونه دي چې جهادي ژوند مې پکې کړی دئ او په ډیرو او غټو جهادي مجلسونو کې ناست یم.

یعنی زه د ځان په اړه داسې تعبیر کوم چې زه د جهاد له ارشیفونو نه د افغانستان د جهاد یو ارشیف یم.

Scanned by Camera Scanner

نطاق:

ډیر ښه شیخ صاحب! زما سره یوه پوښتنه ده هغه دا چې موږ له جهادي رهبرانو څخه بعضی منحرفین ولیدل، لکه رباني، سیاف او نور چې د روس پر وړاندې یې جهاد وکړ، اوس د امریکا له اشغال سره یو ځای شول، نو دا څه سبب دی شیخ صاحب!؟

استاد یاسر:

د دې یو سبب نه دئ، بلکې سببونه دي. لکه مخکې مې چې د جهاد مرحلو ته اشاره وکړه او دا یادونه مې وکړه چې یوه مرحله له بلې سره توپیر لري، هغه په دې مانا چې یو سړی په یوه مرحله کې بریالی شوی، بیا په بله مرحله کې هغسې نه دئ پاتې شوی. تولې مرحلې یو له بل سره توپیر لري.

الله تعالی یو انسان یو ځل په شجاعت او زړورتیا کې آزمايي، په هغه کې بریالی کیږي، خو کله چې همغه سړی په امانت ورسپارلو کې آزمايي، امین نه وي، نو ناکامیږي. شاید یو سړی امین وي، خو په اداري کارونو نه وي قادر.

د جهاد له سخت ترینو مرحلو څخه هغه د عاجزۍ مرحله ده، کله چې جهادي تحریک د واک/ حکومت پر گدۍ کښيني. د جهاد سخته مرحله پر ما هغه وه چې زه وزیر وم، دا وخت زما ږیره سپینه کړه.

نو ویلای شم چې کله اسلامي حرکت واک ته ورسیږي دا مرحله سخت ترینه مرحله ده، ځکه په دې وخت کې د فتنو ټولې دروازې خلاصیږي، خواهشات یې لوړیږي او مبارزې یې ډیریږي،

لکه له نفس سره مبارزه، له اداري کارونو سره مبارزه او له شته خنډونو سره مبارزه. د ځان ساتنه دا وخت ډیره سختیږي.

نو په دې اړه زه ویلای شم چې د انحراف یوازینی لامل کوم چې زه تعبیروم، هغه خپل منځي اختلافات دي او د یوه امیر نه شتون دئ، چې ټول یې ترینه واوري او اطاعت یې وکړي، ځکه الله (جل جلاله) په قرانکریم کې فرمایي﴿وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ﴾[الأنفال: ٤٦]

په یوه هېواد کې د بیلا بیلو سیاسي احزابو پیداکیدل ممکن دي چې هلته سره ژوند وکړي، خو د ډول ډول فوځونو تشکیل، امکان نه لري چې د یوه امیر تر امر لاندې ژوند وکړي.

په دې حساب زما ټولو جهادي حرکتونو ته دا پیغام دئ: چې په سیاسي عرصه کې شاید یو بل سره ومني، خو په عسکري عرصه کې هیڅکله یو بل نه شي منلای، نو باید ټول قوماندانان د یو امیر تر امر لاندې کار وکړي!

او که دوی اتحاد ونه کړي، حتماً یې تر منځ جګړه راځي، د مسلمانانو وینې به تویږي او دا د الله (جل جلاله) پر وړاندې ګناه کبیره ده، نو بیا به الله (جل جلاله) څنګه هدایت ورته وکړي؟ همداسې یې پریږدي، تر څو لاره ورکه کړي، لکه څنګه چې دې خلکو ورکه کړه.

نطاق:

شیخ صاحب تاسو د ایماني تربیت خبره وکړه، که د هغې نه راته ووایاست، چې هغه په څه مانا!؟

استاد یاسر:

کله چې زموږ قیادت د امریکایانو په لاس سقوط وکړ، نو رباني چې د پوهنتون استاد وو او په عقیده کې له الازهرنړیوال پوهنتون ماستري لري، له ده څخه مې اروېدل چې له امریکایانو څخه یې غوښتل: په مجاهدینو ښه بمبار وکړي او لوی لوی بمونه پرې وغورځوي!

بل خواته مې له امیر المؤمنین څخه اروېدل چې امریکایانو ته یې ویل: هر څه چې کوئ ویې کړئ، موږ به هم په مقابل کې همغسې عمل درسره کووپه دواړو غوږو یې درسره واورئ!

نو ماته فکر پیدا شو، چې ته وګوره یو د پوهنتون استاد او په علم کې تخصص هم لري، په یوه ساده امتحان کې ناکام شو او دا بل(امیر المؤمنین) چې علمي سویه یې هومره لوړه نه ده لکه د هغه، مګر کامیاب شو؛ نو دلته زه یوه شي ته متوجه شوم: هغه دا چې زموږ د ټولنې د علمي او فرهنګي پلوه د تربیت تګلاره(علمي اسنادو) ته اعتبار ورکول دي.

پوهنتون یې لوستی؟ ماستري یې کړې کنه؟ دوکتورا لري که یې نه لري؟ پروفیسور دئ، که نه دئ؟ غیر له دې چې ایمان ته یې پام وشي، چې په ایماني لحاظ څنګه دئ؟ دا د ایمانې تربیې مقیاس زموږ په ټولنه کې هېڅ نشته.

یو سړی به د علمیت له اړخه د دوکتورا تر مرحلې رسېدلی وي، خو له ایماني پلوه به تر اوسه د منافقت تر مرحله نه وي وتلی.

نو دلته زه دې ته متوجه شوم چې د سلفو رضی الله عنهم اجمعین منهج/ تګلاره تنها کلتوري نه وه، بلکې له علمي تربیې سره به ایماني تربیه څنګ په څنګ روانه وه. یوه سړي به علمي تربیت واخیست، قرآن او حدیث به یې واورېدل وروسته به جنګ ته داخلیدو. د بدر په غزا کې به یې اشتراک وکړ، بیا به وحیې نازله شوه او تیروتنې به یې اصلاح کړې، نو له علمي تربیې سره ایماني تربیه اوږه په اوږه روانه وه.

زموږ منهج چې اوس ورته ګورو دا دئ؛ اول پوهنتون وایو، بیا ماسټري کوو، بیا دوکتورا او بیا د پوهنتون استادي تر لاسه کوو. اوس چې کله د شاګرد نه امتحان اخلو، فقط د خپل علمیت په اساس امتحان ورکوي، د التزام او عقیدې له مخې امتحان نه ورکوي، یعنی دې ته نه ګوري چې ایمان پرې لري عمل پرې کوي کنه!

کله چې د جهاد کتاب لولي او امتحان پکې ورکوي، تطبیق یې نه شي کولای، ایا عملاً جهاد ته تیار دئ؟ شاید له جهاد نه منکر وي.

بله دا چې آیا استاد یې په خپله په علم باندې عمل کوي؟ نو که چیرته یې هغه نه عملي کوي، شاګرد به څه عمل پرې وکړي؟

لکه تاسو چې وینئ نن، خلک له یهودو او نصاراوو ماسټرۍ او دکتوراوې راوړي، تر څو په پوهنتون کې استادي پرې تر لاسه کړي. بیا کله چې خپل مسلک پای ته ورسوي وروسته بیا کتابونو ته ورننوزي، له یوه کتابه معلومات را اخلي، په بل کې یې لیکي، چې

Scanned by Camera Scanner

دا عملیه په ټولنه کې هیڅ تأثیر نه لري. ځکه خو نن اسلامي نړۍ د ګڼ شمیر بې عمله علماوو له ستونزو سره مخ ده.

سلفو صالحینو هغه شاګرد ته د احادیثو د تدریس اجازه نه ورکوله چې په علم یې عمل نه کاوه. هو دا درسره منم چې له ما څخه یې کتاب لوستی، خو د احادیثو د روایت اجازه نه ورکوم. سلفو علماوو له بې عمله استاد څخه علم نه زده کاوه او نه یې هم بې عمله شاګرد ته د روایت اجازه ورکوله.

له دې امله زموږ په اوسني حالت کې د علم او عمل ګډ منهج او تګلاره له منځه تللې ده.

نطاق:

شیخ صاحب که دا راته ووایئ چې د روس په وړاندې د جهاد پر وخت کې له اسامه بن لادن سره ستاسو اړیکه څنګه پیدا شوه او څه ډول شروع شوه؟

استاد یاسر:

شیخ اسامه بن لادن مخکې له دې چې افغانستان ته د جهاد لپاره راشي، ما ورسره پېژندل. موږ چې به کله سعودي عربستان ته ولاړو، د ده کره به کله کله مېلمستیا ته ورتللو، ده به زموږ ډېرعزت او د مجاهدینو به یې ډېر خدمت کولو. وروسته دی له خپلې کورنۍ او اولادونو سره افغانستان ته د جهاد لپاره راغی، نو موږ په هغه مرحله کې پېژانده چې بهترین مجاهد وو.

هغه وخت چې په یخ ژمي کې د ځائیو په غره کې اوسېدلو، یو چا ورته له خپلې سیمې وویل: راشه زموږ سره د حرمینو په جوړولو کې همکار شه او کار وکړه! نو ده ورته وویل: زه د حرمینو د جوړولو په خاطر په افغانستان کې جهاد کوم، نو موږ د جهاد په مرحله کې ډېر ښه او پوره وپېژانده او خپلو خلکو یې هم د یوه قهرمان مجاهد په صفت پېژانده، کله به چې سعودي ته تللو، نو خپلو خلکو به یې ښه دزړه له اخلاصه استقبال کولو او ده به په جوماتونو کې تقریرونه ورته کول.

عجیبه دا ده؛ شیخ اسامه چې کله د روس په وړاندې جهاد کولو، ټولو عربو او نورو هغو مسلمانانو چې په یمن او نورو ممالکو کې وو، د ده صفتونه کول او دی به یې یو قهرمان مجاهد بللو، چې کله د جګړې اړخ امریکې ته واوښت، بیا تروریست شو!؟

نو دلته سوال پیدا کیږي چې دې سړي کله له روسانو سره جهاد کولو، نه یې د حکومت سره مشکل درلود او نه له ملت سره او نه یې د پاکستان له حکومت او ملت سره کومه ستونزه درلوده،

Scanned by Camera Scanner

پاکستان به ده او د ده وروڼو او کورنۍ ته ویزې ورکولې، کور یې په پېښور کې وو ټولو به لیدلو، پروژې یې تطبیقولې، مسجدونه او دارالایتامونه یې جوړول او د پاکستان استخباراتو د ده په اړه ټول معلومات درلودل؛ هیڅ کومه خبره نه وه، د عربو او پاکستان حکومتونه نه ورته غوصه کیدل. خو کله یې چې د امریکې په خلاف جګړه پیل کړه، ټول یې دښمنان شول، ولې؟ ځکه بادار یې(امریکا) امر ورته وکړ چې دا سړی بدنام کړئ او جګړه ورسره وکړئ له منځه یې یوسئ.

نو ده هم د ځان او اسلام د دفاع په خاطر مقابله کوله، او دا یې حق وو، داسې خو نشي کیدلای چې څوک تا وهي ډبوي او ته ورته ګورې، وایې: السلام علیکم!

اسامه چې په افغانستان کې د روسانو او کمونیستانو په خلاف د جهاد لاره نیولې وه او د دوی پر وړاندې مبارزه کوله، کله چې د امریکا اشغالګر راغلل، د دوی پر وړاندې یې هم مبارزه پیل کړه.

موږ چې کله د روسانو سره جګړه کوله، ناټو مو پر څنګ کې ولاړه وه، حال دا چې موږ د دوی سره هیڅ کوم ډول پروتوکول نه درلود او نه مو د دوی په مصلحت کار کولو؛ خو دوی داسې فکر کولو چې موږ دا یو میلیون شهیدان او زخمیان د اروپایانو د مصلحت په خاطر وړاندې کړل! موږ خو نه شوای کولای چې دا تویې شوې وینې بې قدره او بې ارزښته کړو او تر خپل هدف تیر شو!

هو دا رښتیا چې ناټو بعضی زموږ تش په نوم مجاهدین! په پیسو واخیستل، خو د افغانستان ملت پوهیږي چې دا وینې د نفاذ شریعت او اسلام د بقا په خاطر تویې شوې.

نو اسامه چې هم هغه وخت دغه تګلاره تعقیب کړې وه، ټولو تائیدولو، خو اوس چې له ناټو سره مقابله کوي او حق یې هم دئ، اوس یې نه مني!

موږ چې کله له روسانو سره جګړه کوله، له سلو زیاتو دولتونو په سازمان ملل کې په ډاګه زموږ جګړه په حقه وبلله او روس ته یې د اشغالګر خطاب وکړ، اما اوس زموږ د عصر د دې لوی فرعون امریکا پر وړاندې له ډاره هیڅا فتوا ورنه کړه!

نطاق: شیخ صاحب راځو دغه پوښتنې ته که دا راته ووایی چې امارت مو ولې انتخاب کړ دامریکا له جګړو نه مخکې او ولې ورسره پاتې شوئ؟

کله چې د روسانو تر وتلو او د کابل تر فتحه کولو وروسته د حزب او جمعیت تر منځ خپلمنځي جګړې شروع شوې، نو ما استعفا وړاندې کړه، لاړم پېښور ته او هلته د استاد په صفت پاتې شوم، فکر مې وکړ چې په پوهنتون کې به درس ورکوم، نور مې سیاسي کارونه پرېښودل. کله چې اسلامي امارت رامنځته شو، نو داسې مې وانګیرله چې یو اسلامي حرکت او د ملت له بچو څخه جوړ شوی دئ، د هغې تائید مې اعلان کړ، هغه وخت چې اسلامي امارت کامیاب شو، بیا مې دې ته ترجیح ورکوله چې په علمي ډګر کې پاتې شم او تدریس وکړم.

Scanned by Camera Scanner

خو کله چې د ۱۱ د سبتمبر واقعه پېښه شوه، امریکا د افغانستان پر وړاندې دجنګ اعلان وکړ، جهاد فرض عین شو، نو له دې خاطره مې بهتره وبلله چې د طالبانو په صف عملاً ور ګډ شم او دا مې وویل: چې زه هم د امیرالمؤمنین تر امر لاندې جهاد کوم، ځکه هغه یوازې وو، نور ټول د امریکا په طرف ودریدل، نو ما کوم بل انتخاب نه درلود.

او د امیر المؤمنین تګلاره ښکاره او واضحه وه، هغه یو داسې افغان وو چې د امریکې رعیت یې ونه منلو او په اسلام یې پوره ننګ وکړ.

نطاق:

د امیرالمؤمنین په اړه مو څه نظر دئ، د امریکا پر وړاندې یې دریځ څه وو؟

استاد یاسر:

بعضی خلک د ده په اړه داسې وایي، چې ګواکي ده تیروتنه وکړه، وایي په سیاست نه پوهیدو، خو داسې نه وه، بلکې د ده د ډیر نږدې کس نه مې اوریدلي چې ویل: د امریکې موخه په افغانستان کې یوازې اسامه نه وو، بلکې د امریکایانو لخوا یو لیست وو چې په هغې کې ۳۰ مادې وې؛ لومړی د هغو شرعي نظام لغوه کول وو، بله د هغه وخت د تدریسي بهیر او منهج لغوه کول وو، د ښځینه او نارینه ګډ تعلیم، د حدودو لرې کول او یو شمیر نور مسائل وو چې ملا محمد عمر مجاهد ته پیشنهاد شوې وې. زه وایم الله

تعلی(جل جلاله) د ده ته اجر ورکړي یوه ماده یې هم ورسره ونه منله

هغه وخت خلکو ته ډیره سخته وه چې د امریکې په ضد یې مبارزه کړې وای، نو ملا عمر د افغانستان د خلکو او مجاهدینو ښه ښکاره او حقیقي استازولي وکړه او هغه وینې چې د اسلام په خاطر تویې شوې وې، د هغې یې ښه ساتنه وکړه.

ما ملامحمد عمر تر اوسه نه دی لیدلی او نه ورسره اوسیدلی یم، ځکه زه په یوجهادي حرکت کې وم، او اسلامي امارت نوی تشکیل شو شاید هغه زما نوم او غږ اورېدلی وي، یقیناً چې دریځ یې د باطل پر وړاندې یو حقیقي او نر دریځ وو او زه دا ادعا کوم چې د ده تر امر لاندې یو عادي عسکر یم.او دالله تعالی ج نه ده ته دخیر غوښتونکی یم.

نطاق:

شیخ صاحب تاسو دا څه ډول ارزوئ هغه کسان چې علم ته یې نسبت کیږي(علماو مبلیغین دي) او سره له دې چې په ټوله نړۍ کې په ځانګړې توګه په افغانستان کې طاغوتي نظام خپریږي ددوی په دریځونو کې دبدلون سبب څه دی(دروس په وړاندې یې دمجاهدینو طرفداري کوله او اوس یې دامریکا په وړاندې طرفداري نکوي)

استاد یاسر:

زه دا داسلامي نړۍ لپاره یو لوی ناورین بولم، چې صلیبي او کفري نړۍ د خپلو ټولو امکاناتو او هر څه سره را ټولیږي، په

Scanned by Camera Scanner

اسلامي امت حمله کوي، مګر د اسلامي نړۍ علما نه راغونډېږي چې د دې صلیبي حملې او لوی ناورین پر خلاف د جهاد فتوا ورکړي، چې تر هغې لوی ناورین او غټ مصیبت دئ! ما چې ډېر خفه کوي؛ هغه د کفر په څنګ کې د علماوو دریدل او د دوی باطلې فتواګانې چې صادروي یې، دوی په دې کار سره د ځوانانو باور له منځه یوړ او د دوی د دې کار په وجه د ځوانانو او علماوو تر منځ یوه خطرناکه خالیګاه واقع شوه.

نودغو علماوو چې کله د روسانو او اتحاد جماهیر شوروي سوسیالیستي سره جهاد تائیدولو، هغه وخت آسانه کار وو، زندان نه وو هغه وخت مجاهدین نه زنداني کیدل، رسنیو، خلکو او امریکې هم تائیدولو؛ هغه وخت د جهاد په تائیدولو کې دوی د ځان شهرت غوښت او موخه یې همدا وه.

اما اوس چې څوک د دې جهاد تائید وکړي، امریکا یې نوم د تروریستانو په لیست کې شاملوي، جنګ ورسره کوي، د وخت حکومتونه یې زنداني کوي او ځوروي یې نو له دې امله دوی نه شي کولای چې اوسنی جهاد تائید کړي، له زندانونو ډارېږي! او داسې ښکاري بیا هغه څه ته ورګرځو چې دوه پېړۍ وړاندې صلیبیانو کوم پلان طرحه کړی وو، تر څو د علماوو او متنفذینو په مټ او جامه کې خپل فکر او هدف ته ورسیږي، نو اسلامي نړۍ علماوو عاملینو او مجاهدینو ته اړتیا لري.

خو الحمدلله د طالبانو د تحریک ټولوغړو د جهاد اعلان وکړ، د علم خاوندانو سلاح غاړې ته واچوله، موږ به ان شاء الله په

افغانستان کې په راتلونکي کې له دغې ستونزې سره نه مخ کیږو، څکه وسله علماوو پورته کړې.

نطاق:

علماوو او مبلغینو ته د نصحیت په ډول څه ویل لرئ!؟

استاد یاسر:

زه خو داسې وایم: یو انسان چې په عزت او د حق په لاره کې دغریږي ژوند تیروي، دا بهتره دئ د هغه چا له ژوند نه چې مال او ملک ولري خو ذلیل وي! دا دنیا په دې نه ارزي چې یو سړی یې د اخرت په زیان ځان ته بدله کړي!

علماوو که حق وویل، څه به وشي زندان ته به داخل شي، زه هم زندان ته ولاړم بیرته روغ رمټ ترې راووتم، ما چې څه درسونه له زندان څخه زده کړي، هغه د زندان له تاوان او خسارې نه ډیر زیات وو. که چیرته زندان ته تګ مصیبت نه وای، نو ما به ټولو علماوو ته دعا کړې وه چې الله (جل جلاله) یې ورته نصیب کړي.

علماوو ته زما دا پیغام دئ؛ د الله تعالی په لار کې ملامت له خپلې ملامتیا څخه نه ویریږي، که چیرته عالم حق ونه وایي او د حق فتوا ورنه کړي، نو اسلامي امت ته یې څه ګټه رسیږي او څه ارزښت لري!؟

زه چې کله په زندان کې وم، څو تنه علما راغلل او مناقشه یې راسره وکړه، ویل: په تا زیاتی کیږي، تیر شه تر دې حق ویلو، شریعت تاته دا جواز درکوي چې په رخصت عمل وکړې!

Scanned by Camera Scanner

ما ورته وویل: هو، دا درسره منم چې په رخصت عمل کول جایز دي، مګر یو عالم که چیرته په شریعت کې په رخصت پسې وګرځي، شاید د دین په تغیرولو باندې دلالت وکړي، تاسو ته د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه دریځ واضح دی.

د امام احمد بن حنبل موقف ګوره، سره له دې چې د(رخصت) لاره مني، مګر خپله امام احمد بن حنبل هیڅکله د فتنو پر وړاندې د رخصت لاره قبوله نه کړه. ویل به یې: که چیرته جاهل خپله ناپوهي کوي او عالم ډاریږي، حق نه وایي، نو دا د حق خبره به څوک کوي!؟ اوس همغه حالت دئ، د امریکا پر وړاندې څوک نشته چې د جهاد فتوا ورکړي په داسې حال کې چې علما له دوی سره د کومک، مرستې او د منلو او یا د نیت خلاصی اظهار کوي بس!

امام ابو حنیفه دا ومنله چې ووهل شي، بندي شي، وځورول شي او دې همدې تعذیبونو له امله شهید شي، خو قضا یې قبوله نه کړه.

نو زه خپلو استادانو ته، چې علماً او عمراً له مانه مشران دي وایم: چې په هغه لاره روان شي کوم چې علم او حق ورباندې ولاړ دي او د خدای تعالی په لاره کې د خپلې ملامتیا نه ونه ویریږي، شهادت د دنیا له ژوند څخه غوره دئ.

دوی ته وایم مرګ ټولو ته راتلونکی دئ، یا به د باطل په لاس مړه کیږي چې شهیدان به وي او یا به یې د الله (جل جلاله) ملائکې

په یوه بله طریقه روح اخلي، مګر د شهادت مرګ له دې لارې دوی نه شي تر لاسه کولای. ته دې لوی او بد شرم ته ګوره چې دا علماء د خپلو غلطو موقفونو په خاطر پکې ونیښلېدل، حتی امریکایان ورپورې خاندې او د دوی خبرو ته هیڅ اهمیت نه ورکوي.

دې علماوو ته مو هغه وخت دا وویل: چې موږ به ان شاء الله له ځوانانو څخه د داسې نسل خاوندان وو چې هغوی به فدایان وي! یو ځوان چې مجاهد وي او عالم نه وي، خو د دین په خاطر ځان قرباني کوي لولپه یې کوي؛ عالم ولې د حق ویلو په خاطر شهادت نه قبلوي او د پاکو شهیدانو مقام نه خپلوي!؟

نو زما وړاندیز دی؛ چې یوه ډله او یو تعداد علماء باید د حق ویلو په خاطر استشهاد ته آماده وي، زه اوس د دغې موقف د تګلارې په خاطر ترور، وژلو او دوهم ځل زنداني کیدلو ته تیار یم، شهادت ماته د ذلت له ژوند څخه په لس چنده غوره دئ.

Scanned by Camera Scanner

نطاق:

په اوسني حالت کې په افغانستان او نورو اسلامي هېوادونو کې د جهاد حکم څه دئ؟

استاد یاسر:

جهاد د قیامت تر ورځې جاري دئ. هغه وخت چې شیخ شهیدعبدالله عزام (الدفاع عن أراضي اسلامية من اهم فروض الاعیان) په نوم کتاب لیکلو، زه یو ځای ورسره اوسېدلم. په هغې کتاب کې یې د امت د ډېرو علماوو تائید واخیست، مخکې له دې چې د علماوو تائید واخلي او امضا یې کړي، زه خپله په ډېرو مناقشو کې چې له ابن باز او نورو علماوو سره یې کولې ناست یم، او دا د ټولو متفقه فتوا ده، هیڅ مخالفت پکې نشته چې جهاد په افغانستان کې فرض دئ اود ټولې دنیا په مسلمانانو فرض دئ.

دا هغه فتوا ده چې شیخ عبدالله عزام شهید د ټولو علماوو تائید پکې اخیستی، بیا یې یو کتاب ترې ولیکلو او نشر یې کړ. په دې فتوا باندې ټولو علماوو او مفتیانو توافق وکړ چې که چیرته په شرق کې د مسلمانانو سیمې اشغال شوې، د غرب په مسلمانانو باندې جهاد فرض دئ او که چیرته په غرب کې اسلامي سیمې اشغال شوې شرق یې باید په ننگه جهاد وکړي. نو په دې فتوا کې هیڅ مخالفت نشته، مگر زموږ ستونزه په تطبیق د فتوا کې ده.

هغه علماء چې زموږ نني جهاد ته د جهاد په اعتبار نه گوري، ستونزه یې دا ده چې زموږ په دغه معرکه کې همغې فتوا ته نه گوري، داسې فکر کوي چې دا اشغال نه دئ، نو زه دوی ته اعلان

Scanned by Camera Scanner

کوم او پوښتنه ترې کوم له دې نومیالیو علماوو څخه: چې آیا د کفر له اړخه د امریکایي کافر او روسي کافر تر منځ توپیر شته؟

دا منم چې د کفر د نوعیت او عقیدې له لحاظه یې تر منځ فرق شته، روسان شیوعي(کمونیستي) کافران وو او دا امریکایان علماني (سیکولار)کفار دي، خو د کافروالي له اړخه هیڅ فرق نه لري.

بله پوښتنه ترې کوم: آیا د روسي اشغال او امریکایي اشغال تر منځ څه توپیر شته؟

نو چې د کفر او اشغال تر منځ یې توپیر نشته، دا فتوا له کومه شوه چې توپیر هم نه لري، هغه وخت فرض وو اوس نه!؟

په زندان کې یو افغانی عالم راغی، ویل یې: په افغانستان کې له امریکایانو سره جهاد فرض نه دئ، ځکه دا د ملګرو ملتونو په پریکړه راغلي! ما ورته وویل: په عراق کې څنګه دئ؟ ویل یې: هلته فرض دئ. ما ورته وویل: خو آسانه خبره ده، په تیر جهاد کې مو د افغانستان په خاطر په عراقیانو باندې جهاد فرض وو، اوس د عراق په خاطر باندې د افغانستا ن په خلکو باندې جهاد فرض کړئ! دا خو ډیره ساده مسئله ده. دی خاموش شوهیڅ ځواب یې رانه کړ.

نو که چیرته په عراق کې فرض وي، په افغانستان کې ولې فرض نه دئ؟ په داسې حال کې چې دښمن مو یو دښمن دئ.

قاضیانو او مفتیانو ته وایم: دغه کافر چې په عراق کې محارب دی، نو دا په افغانستان کې بیا ولې معاهد او مرستندوی دی؟ دا فتوا چا ورکړه!؟

Scanned by Camera Scanner

همدغه مفتيان او قاضيان يې په عراق او فلسطين کې محارب بولي او په افغانستان او پاکستان کې بيا معاهد! کوم خليفه د مسلمانانو دوی ته امن، عهد ورکړ؟

نو معلومه خبره ده، چې دا کومه علمي او فقهي قضيه نه ده، بلکې هوسي (نفسي) قضيه ده. د علم د کمښت خبره نه ده، ايمان پورې تړلې موضوع ده، د دښمن پر وړاندې د جرأت کمی دی!

يو چا له ما څخه پوښتنه وکړه، ويل يې: ته ولې دا فتوا ورکوې؟

ما ورته وويل: زه مفتي نه يم، زه ناقل الفتوا(فتوا نقلونکی) يم، زه حکم د فتوا شرحه کوم، شرحه د فتوا، شرحه يا توضيح ده، فتوا نه ده.

زه له دې علماوو نه پوښتنه کوم: چې حربي کافران په نړۍ کې څوک دي؟ که چيرته يهود زموږ دوستان وي، معاهدين وي او نصارا معاهدين او مستأمنين وي، نو د دې زمانې حربي کفار به څوک وي!؟ څوک د قتل لايق دي؟ دا خو معلومه خبره ده چې چين، جاپان او شمالي کوريا حربي(جنګي) کفار نه دي، چې يهود او نصارا هم حربي کافر نه شي، نو هيڅ حربي کافر نشته په دنيا کې، بيا خو دا آيتونه چې په دې اړه نازل شوي دي ﴿وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ....) دا ايتونه معطل دي، د دې آيتونو مراد بيا څه دئ؟ نو جنګ به څې طالبان او القاعده په خپل منځ کې سره کوي!؟ د دې آياتونو نه موږ مراد يو، دا نور ټول دوستان دي!؟

زه د دې علماوو نه پوښتنه کوم او وړانديز ورته کوم: علاوه د دې کفارو له جمعه وارۍ او يو ځای والي نه، آيا امريکا حربي کافر

دئ، کنه؟ که دئ، دا فتوا ورکړئ چې امریکایان حربي کافران دي، د هغو پر وړاندې جهاد فرض دئ، د بغض او حسد لایق دي، دوی د نفرت او دښمنۍ لایق دي!

آیا دا نفرت او کرکه له دوی سره جواز لري او کنه؟ که یې لري، نو اعلان د وکړي چې یهود او نصارا زموږ دښمنان دي! دوی د کرکې او نفرت لایق دي! خو دوی دا خبره نه کوي، منکر دي او نه شي کولای چې کفر ته کافر ووایي!

زه دوی ته وړاندیز کوم: چې خپلو عرب او عجم حاکمان کافر مه بولئ، کافر کافر وبولئ، یهودو او نصاراوو ته کفار ووایئ! ووایئ چې یهود او نصارا کفار دي او زموږ دښمنان دي!

یقیناً دوی د علماوو مقام وشرماوه، ټیټ یې کړ او عالم ته داسې تګلاره هیڅ بکار نه ده، لکه دا دوی چې نن اختیار کړې ده.

موږ د لمانځه په هر رکعت کې له الله (جل جلاله) نه د هدایت(اهدنا) غوښتنه کوو چې د (والضالین) تر سیوره لاندې رانشو او ظاهراً په سیاسي ډګر کې بیا وایي همغه والضالین زموږ دوستان دي، ملګري دي، زموږ وطن ته راغلي پریږدئ چې وطن مو جوړ کړي! نو دوی د لمانځه او سیاست توپیر داسې کوي.

د امریکې د ممانعت او امریکې ته حربي کافر ویل، کومه سیاسي قضیه نه ده، بلکې دا د عقیدې مسئله او دا په شریعت کې هیڅ کومه پټه خبره نه ده.

سمه ده دوی د امریکا پر خلاف زموږ جهاد نه تائیدوي، نو دا د امریکې جنګ زموږ پر خلاف، دا یې ولې تائید کړ، چې زموږ پر

وراندې په څنګ کې ورسره ودریدل، تاسو داسې فرض کړئ، چې زموږ جهاد، جهاد نه دئ، نو د عربي ملکونو څواکونه ولې د خپلو وسلو او ټانګونو سره د امریکا په څنګ کې ولاړ دي او زموږ افغان فقیر ولس د خپلو بچیانو او اسلحو په وسیله وژني. نو زموږ جهاد خو مو نه تائیدولو، خی دا د امریکایانو جنګ مو زموږ پر وړاندې څنګه تائید کړ؟ دا مفتي څوک دئ، له کومه شو چې زموږ پر وړاندې یې د جنګ فتوا در کړه!؟

نطاق:

بلکل شیخ صاحب موږ ریښتینو او رباني علماوو ته اړتیا لرو. شیخ صاحب که دا راته ووایاست په افغانستان کې چې استشهادي عملیات کوئ، که د دې په اړه څه معلومات راته بیان کړئ؟

استاد یاسر:

زه په زندان کې وم، یو مجاهد ټیپ ریکارډر راته راووړ، ویل: دا مې په څو زره اخیستی او څو زره روپۍ مې د محبس د دروازې عسکر ته ورکړې چې مې را ننویستلای، نو اوس که یو کیسټ په یوه اړینه موضوع راته ثبت کړې، نو فکر مې وکړ چې د څه په اړه خبرې وکړم، وروسته مې دا موضوع (استشهادي عملیات ځان وژنه نه، بلکې شهادت دئ) انتخاب کړه، د دې په اړه مې بیلا بیل دلایل په کیسټ کې د خبرو له لارې ثبت کړل او وروسته نشر شول.

زه د فیدایي عملیاتو په اړوند وایم: چې دا د شهادت اعلی درجه ده.

Scanned by Camera Scanner

او همدارنګه دغو محترمو علماوو ته وایم: لومړنی ملک چې فیدايي عملیات یې تر سره کړل، هغه د پاکستان فوځ وو. کله چې د ایوب خان په دور کې هندي ځواکونو په پاکستان باندې حمله وکړه، د هند ځواکونه پاکستان ته ننوتل، نیږدې وه چې د لاهور ښار سقوط کړي، نو پاکستاني فوځیانو تقریباً کوم پنځوسو کسانو پر ځانونو بمونه وتړل، د هندي ځواکونو تر ټانګونو لاندې څملاستل او په یو ځل یې پنځوس ټانګونه انفجار کړل، چې دا د هندي ځواکونو د ماتې یوازینی سبب وو او ایوب خان له دې جګړې فاتح راووت.

د پاکستان حکومت دوی ته(نشان حیدر) ورکړ او په خپل تاریخ کې یې سپیځلي شهیدان ثبت کړل. وروسته د پاکستان ټولو علماوو په اتفاق دا فتوا ورکړه چې یقیناً دوی شهیدان دي او په اسلامي نړۍ کې هیچا د دې فتوا مخالفت ونه کړ.

نو استشهادي عملیات مخکې له دې چې په افغانستان، عراق او فلسطین کې تر سره شي، اول ځل پاکستاني فوځیانو تر سره کړل او د پاکستان علماوو تائید کړل، نو ما په دې کیسټ د پاکستاني علماوو نه پوښتنه کړې او دا خبره مې مطرح کړې: چې اې علماوو! کله چې ستاسو مجاهد د هندوانو ټانګ الوزولو شهید وو، خو اوس چې زموږ مجاهد د امریکایانو ټانګ الوزوي، هغه شهید نه دئ، انتحاري دئ؟

له دوی نه دا پوښتنه کوم: چې یقیناً هم تاسو فتوا په ډالرو خرڅه کړې کنه!؟ نو علما د په قرآن او حدیث کې راغلي دلایل نه پېژني، د دوی له وسه نه دي پوره چې پټ یې کړي.

بل د دې پوښتنې په ځواب کې زه دا وایم: چې دغه ډول عملیات چې د خپل دین او ملک د تحفظ لپاره تر سره کیږي، بیدون له مسلمانانو نه د کفارو پر وړاندې هم یو د فخر کار دئ او دا کس د دوي په وړاندې لوی قهرمان یادیږي.

د جاپان پیلوټان چې کله په نړیواله جګړه کې تیارو ته پورته شول، د امریکا په ځواکونو یې تیارې ور ټیټې کړلې، وربانديې انفجار یې کړلې، د جاپان په تاریخ کې هغه کسان د قهرمانانو په نامه ونومول شول. دا نه تنها چې د مسلمانانو په منځ کې ستر قهرمانان دي، بلکې کفار هم ورته په لویو قهرمانانو قایل دي.

توپیر د انتحاري او استشهادي تر منځ دا دئ؛ چې انتحاري ژوند نه خوښوي، له ژوند څخه پټنګ وي او په هغه کې ناکام شوی بله کومه لار نه لري، مګر زموږ ژوند خوښیږي چې په دنیا کې د ژوند له خوښیو نه لذت واخلو، اولادونه او ښځې مو خوښیږي، مګر د الله تعالی دین موږ ته له ښځو، اولادونو او دنیوي ژوند نه ډیر ګران او خوښ دی چې ځانونه پرې لولپه کوو.

موږ ته تر چوکۍ او منصب نه د ملت آبرو او عزت ډیر محترم دي، دا په دې معنی نه دي چې موږ به په خپل ژوند کې ستونزې لرو، هغوی چې دا تصور لري، را د شي زه درې میرمنې او۲۹ اولادونه لرم، آرام ژوند لرم، هیڅ کومه ستونزه نه لرم، خو دې ته

آماده یم چې خپل نوم د هېواد د استشهادي رهبرانو په لیست کې شامل کړم او ولاړ شم فیدایي عملیات تر سره کړم.

نطاق:

شیخ صاحب تاسو د طالبانو او القاعده تر منځ اړیکې څه ډول ارزوئ؟

استاد یاسر:

د دوی تر منځ اړیکې د وروروګلوۍ اړیکې دي، جهادي اړیکې دي، د مهاجرت او همکارۍ اړیکې دي. تاسو ته معلومه ده چې د طالبانو له پیدایښت څخه تر مخه افغانستان ته دوی راغلي، طالبانو نه اسامه پیژندلو او نه یې له هغو سره مهاجر وروڼه، نه یې ورسره کومه سیاسي اړیکه وه او نه کوم ډول تعارف موجود وو، کله چې طالبان بریالي شول واک ته ورسیدل، نو دې شرعي حکم ته یې وکتل او وویل: چې دا مجاهدین دي، مهاجرین دي، زموږ په خاوره کې اوسیږي، نو دوی په موږ د مرستې حق لري چې ورسره ویې کړو، باید له دوی څخه دفاع وکړو، نو له دې خاطره دوی د هغه تر څنګ ودریدل او القاعدې هم دا ومنله چې ریښتني مو تر څنګ ولاړ دي، تر اوسه دا رابطه ښه ټینګه ده.

هغلته ډېر عرضونه طالبانو ته دالقاعدې د تنازل په خاطروړاندې کېدل، مګر طالبانو قبول نکړل، طالبان هیڅ داسې شی نه قبلوي او ډیر خوښ دي د القاعدې په وروروګلوۍ(طالبانو خپل تنازل قبول کړ، خو د القاعده له منځه وړل یې قبول نکړل)

Scanned by Camera Scanner

ماته د الجزیرې تلویزیون له لارې څخه یو عالم وړاندیز وکړ چې نوم یې نه اخلم، ویل: ته دوی ته ووایه چې یا زموږ خبرې واورئ او یا مو له ملک نه وځئ! نو ما ورته وویل چې محترمه! په والله که خو دا خبره موږ ته نواز شریف یا مشرف هم کړې وي او ته زموږ نه غواړې چې دوی ته ووایو! ده راته ویل چې که چیرته مو دوی ته دا خبره وکړه، موږ مو حمایه کوو، هر څه چې غواړئ در کوو یې

طالبانو لا تر اوسه هغه قیمت نه دئ پوره کړی، کوم چې القاعده د دوی په څنګ کې ودرېدله او له تر اوسه د دوی سره د همکارۍ په خاطر هر څه زغمي، له الله تعالی څخه ورته د دایم لپاره همداسې ثبات او د خیر دعا کوم!

نطاق: په کابل کې چې دلویې جرګې ترنامه لاندې دطالبانو سره دخبرو کولو په پار کنفرانس جوړ شو دهغه په اړه تاسوڅه ویل لرئ.

کله چې په افغانستان کې لویه جرګه دایرېدله، ما هغه وخت یوه خبره وکړه، د رسنیو له خوا څوک نه وو تیار، یا نه وو موجود چې زما هغه خبره یې نشر کړې وای. یو نفر ته ما ویل: زه د پاکستان او افغانستان دواړو حکومتونو ته وایم: چې تاسو یو هم د جکړې لوری نه یئ، نه پاکستان د جګړې لوری دئ او نه مجاهدین د پاکستان استازیتوب کوي، نو په حقیقت کې د خپل بادار بوش په امر را ټول شول، لویه جرګه یې دایره کړه او په هغه کې یې چې کومې فیصلې وکړې هغه هیڅاته د اعتبار وړ نه وې، نو د دوی

فیصلې د امریکا د رضایت لپاره وې او هغه په خپلمنځی خبرو باندې تړاو لري چې دا خپلمنځی خبرې نه وې بې ګټې وې.

که د خبرو نه یې هدف د دښمن سره کښېناستل وي، خو دا خو خبرې نه وې، څوک چې د دښمن سره خبرې کوي، هغه له سره وخت تعینوي، ځای تعینوي، بیا بحث ورسره کوي، زموږ تاریخ ته په کتو سره د جنګ داوړه لوري به د خبرو کولو لپاره کیناستل، د جنګ وخت به یې تعینولو، جنګي سیاست به یې تعینولو، دا واضح دي زموږ په تاریخ کې هیڅ ګرد او غبار ورباندې نشته.

هغه څه چې موږ ته مهم دي او زه یې د کابل حکومت او نورو درګیرو لوریو ته چې په دې قضیه کې ښکیل دي، مطرح کوم،

Scanned by Camera Scanner

هغه دا پوښتنې دي:

آیا دا امکان لري چې اشغالګر په هېواد کې وي، لا نه وي وتلي او موږ د دوی په شتون کې دافغانستان حکومت سره خبرو ته کښېنو یو څه ورسره ومنو، نو بیا زموږاود سیاف، رباني او د کابل حکومت ترمنځ څه توپیر دئ؟

اوس هغه وخت دئ، چې موږ طالبانو ته د کابل ادارې پر ورانديې د استدلال لپاره نور هیڅ د خبرو ضرورت نشته، هر څه واضح دي، کله چې د امریکې عسکر له افغانستان څخه ووتل، بیا موږ له دوی سره خپل منځی خبرو ته کښېنو.

زه د کرزي نه دا بله پوښتنه کوم: آیا دوی پرته د اشغالګرو له ځواکونو څخه پخپل ځای پاتې کیدلای شي؟ ګومان نه کوم، مګر دا چې دوی شاید له امریکایانو مخکې فرار وکړي!

نو زما په ګومان تر هغې چې امریکایان په هېواد کې وي، داسې څه نشته چې د هغې په اړه خپل منځی خبرې وربانديې وکړو، دا د نیمې حل لارې مسئله د امیرالمؤمنین او د هغې د طالبانو له خوا چې لا تر اوسه جنګیږي، رد شوې، نو که چیرته دوی چې د دغه ملک حاکمان دي دغه مسئله نه قبلوي، او هغه نور چې ددغه ملک حاکمان هم نه دي، هغوی یې څنګه قبوله کړي؟(موخه یې دامریکا لوسپوځي دي) نو ویلای شم چې دا قضیه چې طالبان خبرو ته نه کښېني، رسنی یې د دې په خاطر کښته و پورته کوي، تر څو د طالبانو په صف کې درځ ایجاد کړي.

Scanned by Camera Scanner

یو کس چې د کابل د پارلمان غړی وو، هغه راته ویل: موږ چې کله د طالبانو سره د خپلمنځي خبرو په اړه غږیږو، غواړو دوی په خپل منځ کې سره جلا کړو، چې یوه خوا یې د خبرو کښیناستو ته میلان پیدا کړي او بل لوری یې تشدد کوي.

خیر په هر حال زه اوس ټولو ته ډاډ ورکوم چې لا تر اوسه ملا محمد عمر مجاهد ژوندی دئ، له دې مسئلې نه مه ډاریږئ، هغه دا خبره ډیره مخکې رد کړې، په دې خبره یې بې دریغه قرباني او پریمانه شهیدان ورکړي، چې په اول د کار کې یې قبوله نه کړه، نو په اخیر کې به یې څنګه قبوله کړي؟

نو، زموږ او د کابل حکومت تر منځ هیڅ داسې څه نشته چې په هغې باندې خبرې وکړو، مګر تر څو چې امریکایي اشغالګر زموږ له خاورې بهرشي او اسلامي نظام، چې له پنځه دیرشو کلونو راهیسې مو وینې ورباندې تویې شوې، قایم شي.

یو نفر د طالبانو او کابل حکومت د خپلمنځي خبرو په اړه مناقشه راسره کوله، ما یو مثال ورته وړاندې کړ نو دا مثال اوس د دې میډیا له لارې ټولو خلکو ته وایم: چې د یو چا کور ته اشغالګر ورځي، په مال، اولادونو او ښځو یې تجاوز کوي، وروسته ورته وایي: راځه خپلمنځي خبرو ته کښینو!

اوس به دا د کور څښتن ورته وایي: چې له کوره بهر شه، چې څنګه راغلی یې همداسې وځه، وباسي به یې؛ کنه ورته وایي به: چې زما په کور کې یوه هفته تاسو واوسئ، یوه هفته موږ، هر شی او سامان د کور نیمایي ستاسو او نیمایي زموږ! نو آیا په یوه واړه کور

کې دا خبره یوه مسلمان ته د منلو وړ ده، چې یوه وړه کورنۍ یې اشغال شي!؟ نو چې یو چاته د یوې کورنۍ اشغال د منلو وړ نه دئ، د یوه غیرتي مسلمان ملت اشغال به څنګه ومني!؟

نطاق:

تاسو د پاکستان او افغانستان په زندان کې کوم درسونه واخیستل، هغه چې تاسو ته ډیر معتبر وو؟

استاد یاسر:

واللهِ هغلته زما لپاره ډیر داسې درسونه وو چې ډیر مې په نفعه وو. اولَ درس چې ما له زندان څخه زده کړ، هغه دا وو چې یو داعي ته دا بهتره ده چې درخصت پر ځای دعزمت لاره غوره کړي ما له ځانه سره دا تصمیم ونیو، چې هر څومره انکار وکړم، ټول مې پیژني، زما اړیکې له مجاهدینو سره برملا او واضحې وې، ټول په دې خبر وو، نو له هیڅ شي منکر نه شوم، بلکې په زغرده مې ورته وویل: چې جهاد د امریکا په وړاندې فرض دئ، حتی قاضي او مستنطق دواړو ته مې هم وویل: چې ستاسو په وړاندې پر موږ جهاد فرض دئ، ځکه دا یوه نصراني او صلیبي جګړه ده، تاسو ورسره ولاړ یئ او د اسلامي ملک آزادولو لپاره دا جهاد فرض دئ.

حتی د اسامه سره په اړیکو درلودلو مې هم انکار ونه کړ، دوی ویل: ته اسامه پیژنې؟ ما ورته وویل: هو. ویل: څه رابطه ورسره لرې؟ ما ورته ویل: زما د جهاد ملګری وو، خامخا به یې ورسره لرم.

د خلکو په نظر به زما دا تحقیقات یو عجیبه تګلاره وي، شاید دا فکر وکړي چې دا په سیاست نه پوهیږي! خو زه وایم: دا د دعوت

یو مهم ټکی وو، کله به مې چې د حق خبره کوله، قناعت یې کولو، حتی هغو کسانو چې تحقیق یې رانه کولو، هغه هم په دې قناعت کولو، د زندان له اوله تر اخره چا بحث نه راسره کولو، ځکه حق مې بیانولو او دوی هم اعتراف راسره پرې کولو چې زه په حق یم. حتی تر دې چې پاکستاني فوځیانو به کله زما لاس ولچک کول، لاسونه به مې یې مچي کړل او دعا به یې راځخه غوښتله، چې دا په هغوی باندې زما د دعوت ښکاره اغېز وو.

بله دا چې: دوی په زندان کې هم له مانه ډاریدل، پوهیدل چې زه حقیقت وایم او د مجاهدینو استاد یم، بیا کله کله به مې چې ورته وویل: چې قسم په خدای چې څه زیاتی مو راسره وکړ، مجاهدین به زما کسات درنه اخلي.

ستونزه دا وه چې په زندان کې ډیر پاتې نه شوو او دا د زندان موده ونه غزیدله، د زندان ورونو ته به ما ویل: موږ چې د دښمن په وړاندې د الله تعالی په لاره کې خومره مزل کوو، الله (جل جلاله) به زموږ ساتنه او نصرت کوي. هغه وو چې د ټولو تعذیبونو سره سره له زندان ځخه راستون شوم.

یعنې هدف داچې زما زنداني کېدل هم دی ته خطر وو.

اوس ستاسو د چینل له لارې په هغو ټولو غږ کوم، په ځنګړې توګه هغوی چې په کابل کې دي او هغوی چې په زندانونو کې دي او هغه ناصحان چې زه یې ډارولم، دې ټولو ته وایم: زه دا لاره نه پریږدم! ټولو ته وایم: ومو لیدل چې الله تعالی ځنګه له زندان را

بهر کړم! ومو لیدل چې زما پادشاه ستاسو له بادارنو لوی دئ! آیا دا فکر نه کوئ چې صدق به له کذب نه نجات مومي!؟

دا درته وایم: ټول په دې پوه شئ، چې دعزیمت په لاره کې خطر کم دئ، نسبت د رخصت لارې ته! او دا درته وایم: چې زما د زندان تجربه ډارنو او بغیرتانو ته ښه عبرتناک درس دئ!

نطاق:

شیخ صاحب! که د زندان له هغو پېښنو نه یو څه راته ووایئ، چې تاسو یې متأثره کولئ؟

استاد یاسر:

هو ډیر څه داسې تیرېدل چې زه یې متأثره کولم، یو له هغو نه دا وو؛ چې زه د تعذیب په ځای کې وم او دوی هلته یو عرب ورور تعذیبولو، نو د ده چیغې به مې چې کله اورېدلې، ډیر یې دردولم، حتی داسې یې کړم چې خوب به نه راتللو، په لمانځه کې خشوع نه راتلله او تلاوت مې نه شوای کولای. په یوه اطاق کې زه وم او د څنګ په اطاق کې به دی وهل او تعذیبیدلو، چیغې به یې وهلې، چې دا په ما باندې د زندان له عذابونو څخه یو لوی عذاب وو چې تیریدلو.

داسې شوم چې کوم دوې ورځې مې خوب ورک وو، په ځان باندې وډار شوم چې لیونی نه شم، بله شپه د څو شیبو لپاره خوب راغی، خوب مې لیدو چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په یوه صنف کې درس را کوي او دغه عرب ځوان مې هم تر شا ناست وي، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به ده ته اشاره کوله او

ورته به يې ويل(انتم رسلی) کله چې له خوبه پاڅيدم، نو ذهن او فکر مې آرام وو، ټول غم او خفګان رانه ورک وو، نو دا مې د زندان يو عادت وګرځيد چې کله به شديد او سخت حالات رابانديې راغلل، بيا به مې ښه خوب وليد، هغه به هر څه بيرته سم کړل. نو دا يو حالت وو.

بل سخت حالت هغه وو، چې مخکې مې يې يادونه وکړه، د استشهاد په اړه مې چې کله کيسټ ثبت کړه، نو هيڅا د هغې په نشرولو کې راسره موافقت ونه کړ، حتی را څخه اخيسته يې نه، ويل يې: ستونزې راپورته کوي او نور د هم تعذيبوي، هغه هرڅه پخير تېر شول کومه ستونزه يې راته پيدا نکړه وروسته مې بله پېښه دا وليده کوچ مې په غوړيو اړول په اور مې کېښودل کله چې ښه جوش شول او په غليان راغلل ما چې را وا اخيستل په بوتل کې مې اچول، ټول مې په لاس را تش شول، نو په لاس مې هيڅ هم ونه شول، نه وسوځيد او نه يې کوم درد وکړ، نو دا يو کرامت وو چې الله تعالی ماته راوليد، چې د حق ويلو په خاطر به نه ډارېږم او وروسته له زندان مې ډار پاک ورک شوی.

داسې شوی يم که چيرته چا د ليونتوب ادعا نه رابانديې کولی او د ليوني نوم يې نه را بانديې ايښودلای، له دې ټولو قاعدو وتم(هرڅه به درته بيان کړي وو)، نو زندان نور څه رابانديې ونه کړل، مګر جرئت مې يې زيات کړ.

ډير څه مو هلته د الله د نصرت او حمايت وليدل... حتی داسې وو، هر وررور به چې وهل کيدا او عذاب به يې ورکولو، چې پوښتنه

به مو ترې وکړه هیڅ د درد احساس به یې نه کولو، نو زه خلک دې ته ترغیبوم او تشویقوم: چې د غربیانو او طاغوتیانو له زندانونو څخه ونه ډار شئ، څکه خدای پاک به د دوی غیبي تائید او نصرت کوي، په داسې حال کې چې دوی به هیڅ خیال نه کوي!

د کار په شروع کې سخت حالات راځي، مگر که ورته آماده شي او مات نه شي، لکه ابراهیم علیه السلام چې کله اور اچولو ته آماده شو، وروسته حالات ورته تغیر شول، په اوایلو کې خو ورته سختي وه، نو کله چې مسلمان دې سختۍ ته آماده شي، وروسته الله تعالی په خپل مخلص بنده پوهیږي، چې د هغې مدد وکړي، همداسې ټول در واخلئ!

بله پېښه چې زه یې ډېر ودردولم: یو افغانی یې په زخمي حالت کې زندان ته راووړ، د بې هوشۍ په حالت کې وو، همداسې زخمي یې په ځمکه باندې واچولو، په لاس کې یې ستنې ورکړې وې، هیڅ احساس یې نه کړ، نه پوهیدلو، همداسې پروت وو، ما ورته وویل: روغتون ته یې یوسئ! دغه د انسان او مریض حقوق چیرته دي، ستاسو په قوانینو کې!؟

بل ناوړه حالت دا وو، چې په زندان کې ډېر لیونیان وو، اوس هم د کابل په زندان کې ډېر لیونیان بندیان دي، نو ما ورته وویل: عبدالرحمن چې په زندان کې نصراني شو، ومو ایستلو، دا چې لیونیان دي، دوی هم لکه عبدالرحمن نصراني یا یې له زندان څخه وباسئ او یا یې په زندان کې معالجه وکړئ!

بیا مو یوه کیسټ(د پلچرخي زندان) په نامه ثبت کړه، چې په هغه کې مې له کابل حکومت څخه غوښتنه وکړه؛ چې نور حقوق خو لا په ځای پریږدئ، دا د باغ وحش د حیواناتو حقوق خو د پلچرخي محبس بندیانو ته ورکړئ!

نطاق:

شیخ صاحب! د اسلامي نړۍ جهادي رهبرانو ته څه نصحیت لرئ؟

استاد یاسر:

زه دوی ته وایم: نن چې موږ په څه کې اخته یو او په څه کې را ګیر یو، یوازینی علت یې خپلمنځي اختلافات دي او د رهبرانو نه متحد کېدل دي.

نو دجلا جلا رهبرانوله ټاکلو نه دیوه رهبرټاکل بهتره دي او دیوه رهبر انتخاب له دې نه ښه

دی چې څوک په خپل منځ کې جګړه کوي.

زه دوی د صف یوالي ته را بولم، ما به مخکې هم خپلو مجاهدینو ته ویل: چې په یوالي کې داسې ټینګ شئ، لکه د ناټو ډله، داسې متحد شئ!

نو باید مجاهدین په یوالي او اتفاق کې د حیلف(هم پیمان، هم عهد) ناټو په شان، تر یو بیرغ لاندې را ټول شي او وجنګیږي! یو امر، یو قیادت او یو فوځ وي! اکمال یې یو او جګړه یې یوه وي!

اوس خو دې رهبرانو افغانستان په دولتونو باندې ویشلی، هر دولت ته یې یو ولایت ورکړی او د هغه دولتونو نصراني او صلیبي

Scanned by Camera Scanner

مفکورې پکې په غوړیدو دي، که نور نه وي، رهبران یې باید د یوالي او وحدت له اړخه له دښمن نه زده کړي!

نطاق:

شیخ صاحب! په موږ او تاسو باندې پرته له شکه ډیر لوی کړاوونه تیر شول، ډیرې لویې حادثې تیرې شوې، په دغه لویو حادثو کې یو هم د سره مسجد(د پاکستان په پلازمینه اسلام آباد کې تر ټولو مشهور جومات چې سیاسي فعالیتونه یې هم درلودل) پېښه وه، په دې اړه ستاسو نظر څه دئ او د دا ډول پېښو په اړه د علماوو خاموشي څنگه ارزوئ؟

استاد یاسر:

د دې پېښې په اړه ما یوه بیله کیسټ ثبت کړې، چې په هغه کې مې خپلو شهیدو خویندو او وروڼو ته خپله عذر خواهي وړاندې کړې، چې د دې پېښې په اړوند زما فکر او اند هلته مکمل واضح شوی، خو دلته وایم: د سره جومات ناورین ډیر لوی وو، نسبت د بابري مسجد ته. له هره اړخه دا ناورین لوی وو، که د شهیدانو له اړخه وښیي او که د اشغال او هجوم له اړخه، دا ډیر لوی وو.

زه چې ډیر ورته تعجب شوم او تر دې هم غټ ناورین وو، هغه د دې سترې پېښې پر وړاندې د علماوو سقوط او خاموشي وه! ما د میډیا له لارې واوریدل، تقریباً کوم درې زره طلاب او طالبات پکې شهیدان شول.

په دې دوو مدرسو(لال جومات او حفصه مدرسه چې په سره جومات مشهوره دي) کې چې څومره شاگردان او شاگردانې وې،

دې ټولو ته دوی وویل: چې ولاړې شئ، نه مو زنداني کوو، کورو ته مو هم موږ رسوو، څو تنه چې د هغې نه ولاړې، خو ولاړې، دا نورې ټولې دلته تر سرو اورونو او مرمیو لاندې ودریدلې او شهیدانې شولې. دقیقه احصائیه یې معلومه ده.

سره له دې د امریکا له خوا په دوی حمله هم واضحه وه او د قربانیانو تعداد هم ورته معلوم وو، مګر علماوو سکوت وکړ، چې بیخي د تعجب خبره وه! د پاکستان او اسلامي امت علماوو د دې پیښې په اړه سکوت وکړ، چې دا لوی ناورین او غمیزه بولم! د دوی پر حال افسوس کوم!

نه د اسلامي نړۍ علماوو او نه نړیوالو سازمانونو د دې پیښې هیڅ یادونه او هیڅ توجه یې ورته ونه کړه، چې تر هغې پیښې زه دا لوی مصیبت بولم!

که چیرته دا مسجد نه وای، د چرګانو یو فارم وای، تا به لیدلي وای چې نړیوالې ټولنې او نورو د بشر حقوقو سازمانونو به څومره کومي شکولي وای او څومره اعتراضات به یې کولی!

دلته که یو حیوان په ځنګل کې وځوریږي، اعتراضات کوي چې تاسو د حیواناتو حقوق نه ورکوئ! زه د دوی نه پوښتنه کوم: چې تاسو د حیواناتو د حقوقو پوښتنې کوئ، آیا دا بشر نه وو، د حقوقو لایق نه وو چې تاسو تر خاورو او اورونو لاندې کړل؟ د دوی حقوق چیرته دي؟

د امریکې له راتګ څه موده مخکې یو تعداد خلکو د پیښور په میري کې په یوه نشراتي مدرسه حمله وکړه، د پاکستان علماوو دا

حمله د عبادت پر مرکزونو برید وباله او وویل: چې په داسې ځایونو حمله او هجوم ورورل جواز نه لري، خو د سره جومات په پېښه کې همداسې گونگ پاتې شول، ولې؟

نو د الجزیرې تلویزیون سره په یوه ملاقات کې یوه نفر له پاکستاني علماوو او سیاسونو څخه پوښتنه وکړه: ویل یې مشرف ته وایم، چې که دا یوه کلیسا وای، تاسو کولای شوی چې داسې یې بمبار کړئ، لکه دوی چې دا جومات بمبار کړ؟ نه هیڅ کله هم نه. نو زه دا پېښه د پاکستان حکومت په سیاست کې ډېره غټه تیروتنه بولم، دا پېښه به د حکومت لپاره د غټو ستونزو دروازې پرانیزي، پر دې پېښه د انگلیس د پوهانو او پاکستان د علماوو پروتوکول وو.

د انکلیس د هغې معاهدې نه تر اوسه چې سیاست به په جومات کې مداخله نه کوي او جومات به په سیاست کې مداخله نه کوي، علما به د مدرسو له مداره نه وځي او دوی به د مدرسو او مسجدو په حریم تجاوز نه کوي. داسې پېښه نه وه شوې.

اوس هغه پروتوکول خپله انگلیسانو مات کړ، په داخل د مسجد کې یې د مذهب توهین وکړ، ملایان او طالبان یې ووهل او ووژل، نو زما له نظره دا د سیکولریزم تشدد او زیاتی دئ چې دوی یې کوي هغوی چې موږ ته افراطیون او متشددین وایي دا دسکولاریزم ایکس ټري میسټ(تند روي، او تشدد، زیاتی)دی

نطاق:

که راشو دې موضوع ته دامریکا وضعیت دافغانستان او عراق دمجاهدینو په وړاندې(مقابله)کې څنگه ارزوئ.

Scanned by Camera Scanner

استاد یاسر:

کله چې عراق امریکایانو اشغال کړ، نو موږ ډېر د خفګان او مایوسۍ په ورځو کې ژوند تیرولو، دا ډیرې دردونکې پیښې وې. ما چې هغه وخت د تلویزیون له لارې د عراق حالت څارلو، ډیر یې ځورولم، نو خپلو ملګرو ته به مې ویل: سبحان الله! موږ مخکې د افغانستان په حال ځوریدلو، مګر عراق مو هم له لاسه ورکړ!

له دې څخه نه وو خبر چې دا اشغال به موږ ته په عراق کې د جهاد دروازې خلاصوي! ځکه په جهادي ډګر کې عراق د اسلامي او عربي هېوادونو یو ډیر ضعیف ملک وو، هیچا دا فکر نه کولو، چې داسې ډلې ډلې مجاهدین به پکې را پورته کیږي چې هغه به د امریکایي استعمار سره جنګیږي!

خو اوس دا وایم: چې د امریکایانو پاتې کیدل، همله په امریکا کې ددوی په خیر وو، ځکه هر څومره ډیر چې په عراق او افغانستان کې پاتې کیږي، مالي او ځاني زیانونه به یې زیاتیږي او ګټه به یې نه وې کړې! دوی چې عراق ته د نفتو د غلې لپاره ورغلي وو چې په مالي لحاظ غني شي، مګر کوم مالي زیانونه چې دوی ولیدل، هغه مجاهدینو ونه لیدل، غربیان د مجاهدینو په دام کې را ګیر شول، دا د مجاهدینو په خیر تمامه شوه، ځکه څومره چې دوی پاتې کیږي د اقتصادي رکود او نفسي مشکلاتو سره مخ کیږي.

په ځای د دې چې دوی نفتي او نور معادن استخراج کړي، یا د عراق تیل امریکا ته یوسي، دوی د تېلو په ځای خپلې وینې امریکې ته یوړې او موږ په دې جنګ کې د دوی په نسبت هیڅ زیان ونه لید.

Scanned by Camera Scanner

بله لویه ګټه موږ دا وکړه، چې د عربو ځوانان به افغانستان ته د جهاد لپاره راتلل چې په افغانستان کې وروزل شي او جهادي ژوند ته یې سینې خلاصې شي، نو د ډیرو ستونزو سره به مخ کیدل، د ژبې ستونزه وه، دپېژندګلوۍ مشکل وو او نابلدي وه، نو اوس الحمدلله الله تعالی د اسلامي نړۍ په منځ کې د جهاد دروازه خلاصه کړه او زه دا ښه په زغرده وایم؛ چې د عراق مجاهدین اوس نه تنها د عراق، بلکې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره کافي او بسنه کوي.

یو شي ته لږ اندېښمن یم چې خدای مکړې په خپل منځ کې سره اختلاف ونه کړي او د خپلمنځي جګړو ښکار نه شي، الله تعالی د داسې چاره نه ور پېښوي، لکه د افغانستان پخوانیو مجاهدینو ته چې ور پېښه شوه او دوی باید زموږ له تیروتنو درس واخلي!

څو ورځې مخکې مې د یوې برتانوي مجلې یو وضاحت لوست، لیکلي یې وو: برتانیې (انګلیس)چې په عراق او افغانستان کې کوم خسارات ولیدل، د برتانیې له هغو خساراتو څخه ډیر وو، کوم چې په دوهمه نړیواله جګړه کې ور اوښتي وو. هغوی اوس په خپله ماتې باندې خپله هم اعتراف کوي، ان شاء الله چې ژر به ماتې خوري!

نطاق:

شیخ صاحب پوښتنه داده آیا دعراق او افغانستان جګړه یو ډول جګړه ده او امریکا چې ورسره مخ ده د دوی تر منځ کومې اړیکې شته اوکنه؟

قضیه تنها د عراق او افغانستان قضیه نه ده، بلکې دا په اسلامي هیوادونو باندې صلیبي یرغل دئ، موږ اوس په معاصره صلیبي جګړه کې قرار لرو.

د صلیبیانو لومړی یرغل، تنها صلیبي یرغل وو، خو دا نه تنها صلیبي، بلکې یهودي او سیکولري هم ورسره یو ځای یرغل دی چې د اسلامي هېوادونو منافقین او معاونین یې هم ورسره ملګري دي، نو په دې حساب دا له لومړۍ صلیبي حملې نه ډېره شدیده ده. ټول یو ځای شوي، موخه یې یوه ده، عساکر یې یو دي، مشر یې یو دئ او سیاست او پالیسي یې یوه ده.

تاسو وګورئ نه تنها په عراق او افغانستان کې، بلکې هغه کسان چې په شرق او غرب کې د دوی مخالفت کوي د اسلام په نامه دوی د ګوانتنامو زندان او نورو زندانونو ته اچوي، نو معلومه شوه چې قضیه د عراق او افغانستان نه، بلکې قضیه په اسلامي نړۍ باندې د صلیبي یرغل قضیه ده.

دوی دا جګړه د هغو په وړاندې کوي، څوک چې د اسلام دفاع ته چمتو دي، د هر اشغالګر او متهاجم دا عادت دئ، له هغه چا سره جګړه کوي، څوک یې چې په وړاندې وسله پورته کوي، هغوی چې په خوب ویده وي یا په خوړلو او څښلو مشغوله وي، د هغوی سره هیڅ کار نه لري! نو مسلمانان ټول باید د دې صلیبي جګړې مقابلې ته را ووځي!

صلیبیان اوس یو بل کوښښ هم کوي، غواړي چې موږ او قربانۍ ته تیار خلک د عامو خلکو په ذهنونو کې ترورېستان معرفي

کړي، تر څو ملت له دغې قضیې نه همداسې غافل پاتې شي، نو دوی مخکې د دې جګړې لپاره په افغانستان کې بهانه اسامه او القاعده نیولې وه، په عراق کې خو نه القاعده وه نه اسامه په هغې یې څنګه حمله وکړه؟

د افغانستان لپاره خو یې طالبان بهانه کړل، چې دا یوه متشدده ډله ده، نو په عراق کې له صدام سره د دوی څه مشکل وو، په داسې حال کې چې له دوی سره یو ځای را لوی شوی وو، نو ستونزه دا وه، چې په منځني ختیځ کې د عراق فوځ یو له پیاوړو ځواکونو بلل کیدو او دا دوی ته خطر وو، ځکه عراق د ټیکنالوژۍ او عسکري قیادت له اړخه ډېر پرمختللی وو او دا امکان وو چې دوی ته خطرناک تمام شي. د پاکستان حکومت ته مې هم دا پیغام دئ او نصحیت دئ؛ چې تاسو هم د عراق په څیر کیږئ، هر څومره چې کوښښ وکړئ، امریکا د اسلامي مدارسو په شتون کې نه شئ راضي کولای او نه به پاکستان د یوه قوي اټومي فوځ څښتن کړئ، امریکا او صلیبیان هېڅکله دا نه غواړي چې په اسلامي نړۍ کې یو قوي اسلامي دولت شتون ولري، ځکه دا د امریکا او یهودو د مصلحتونو لپاره غټ خطر دئ، چې دوی غواړي له منځه یې یوسي.

اوس د امریکا یو لوی پلان دا دی چې د پاکستان لپاره یې یو داسې فوځ جوړ کړی، چې د ملت سره په مقابله کې دی، هغه فوځ چې شعار یې (ایمان، تقوا او جهاد في سبیل الله) وو، هغه فوج چې د هنودو له جګړې بریالی ووت او ټول ملت ته محبوب وو، اوس

يې د ټولو تر پام بد کړ او دا غټه ضربه وه چې د امریکا په امر د پاکستان فوځ وخوړله.

نور باید د پاکستان او نورې اسلامي نړۍ عاقل خلک، هغه خلک چې د اسلامي امت مصلحتونو ته حریص دي دا معتبره وګڼي هغوی باید د دغو کارونو عاملین وپېژني چې د امت په مصالحو يې څوک لوبې وکړي!

نطاق:

شیخ صاحب! که په دې باندې خبرې وکړو چې لسګونه غربي ملکونه ټولیږي او د افغانستان پر وړاندې جګړه کوي، دوی ته مو پیغام څه دئ؟

Scanned by Camera Scanner

استاد یاسر:

زموږ په تیر جهاد کې اروپا، امریکا او ټوله غربي نړۍ پورته شوه، زموږ نه یې د شوروي شیوعي(سوسیالستانو) په وړاندې جګړه کې د یوې وسیلې په توګه استفاده وکړه، که څه هم دوی دا تصور نه درلود چې شوروي به دلته ماتې خوري او مجاهدین به بریالي کیږي، خو دوی ویل: که شیوعین(سوسیالیستان) وژل کیږي هم زموږ په خیر دي او که مجاهدین وژل کیږي هم زمو په خیر دي.) حتی دوی نه مالي تاوان ولید او نه عسکري، کومه مرسته به چې د مجاهدینو سره کېدله، هغه د اسلامي مملکتونو له خوا کېدله، نو دوی له مجاهدینو سره په دې خاطر ودریدل چې د شوروي اتحاد له خطره ځان بچ کړي او ځانونه ترې راحت کړي، نو کله چې امارت په افغانستان کې بریالی شو او تشکیل شو، فوراً دوی خپله لار جدا کړه، ځکه کله چې روسانو ماتې وخوړله، بیا نو طالبان او اسلام دوی ته خطر وو، نو له دې خاطره دوی د اسلام په وړاندې اعلان د جنګ وکړ، فقط د اسلام او مجاهدینو په وړاندې یې دا اعلان وکړ.

ځکه امریکایي اسلام د دوی لپاره خطر نه وو، نو له دې خاطره دوی په امریکایي اسلام باندې اعتراف وکړ او هغه اسلام چې په هغې کې جهاد وي، د هغه په وړاندې یې اعلان د جنګ وکړ او هغه کسان چې د دوی سره جنګیږي، نوم یې پرې تروریستان کېښود، افراطیون او متشدیدین یې بولي!

نو زه وایم چې افغانستان د همدغه جهادي اسلام پوازینۍ مدرسه ده، له دې خاطره دوی اول له افغانستان سره جګړه اعلان کړه، ځکه د جهاد روح له همدغه ځای څخه خپرېږي او دا د جهاد دروازه ده، ځکه یې په افغانستان باندې ډېر ټینګار وکړ.

په عراق باندې د صلیبي حملې بله موخه اقتصادي ولجه وه چې حمله یې ورباندې وکړه، که فکر وکړو عراق د معادنو له اړخه غني ترین ملک دئ، د نفتو ذخایر لري، همداسې افغانستان چې د معادنو له پلوه غني ملک دئ، دوی دې ته هم ژر ځان رسول غوښتل، امریکا داسې فکر کولو چې که چیرې افغانستان تر خپلې ولکې لاندې راولو، دا به زموږ قدرت پیاوړی کړي، مګر د اقتصادي مفلسۍ په لور روانه ده.

نطاق:

ډېر ښه شیخ صاحب! دا خو مو غربي مملکتونو ته پیغام وو، دغو نورو ملکونو ته څه پیغام لرئ؟

استاد یاسر:

هغوی ته دا وایم، چې هغه ډېر مسکین/ بیچاره مخلوق دئ، باید خپلو مسؤلیتونو ته پاملرنه وکړي، د خپلو ځوانانو افکار وساتي، دادې ورته واضح کړي چې غربي نړۍ ولې جګړه راسره کوي؟ دا حیوانات ولې د خپلو لونو او زامنو په وسیله زموږ کورونو ته را ننوتل؟ دا هم وایم: هغه لویه خساره چې غربي نړۍ ولیدله، هغه په اسلامي نړۍ باندې د بوش حمله وه، په دې حملې سره یې ټول هغه څه له لاسه ورکړل، چې دوی د دوو پیړیو په جریان کې

Scanned by Camera Scanner

حاصل کړي وو. هغه دا وو، چې مخکې اسلامي نړۍ له دوی سره داسې ژوند کولو، چې ګواکي غربي نړۍ ډیره ورته نږدې ده. دوی ته یې د اهل الکتاب او اهل دین په سترګه کتل، ویل به یې: دا خو زموږ معاهدین دي، زموږ دملکونه معماران دي نو شیوعین(روسان) یې له دوی نه خطرناک بلل، مګر په دا اوسنیو حملو کې اسلامي نړۍ ته په ډاګه شوه چې امریکایي اشغالګر له روسانو څخه هم بدتر وحشیان دي، اوس د ټولې نړۍ لید د غربیانو او امریکایانو په اړه په کرکه او حسد بدل شو، مخکې به یې د یوه پرمختللي او متمدن ملت په صفت ورته کتل خو اوس ټوله نړۍ ور څخه نفرت کوي، نو دا هغه خساره وه، چې د غربي نړۍ ټولو تعلیماتي مؤسساتو او خلکو د خپلو اشغالګرو تر څنګ ولیدله.

نطاق:

شیخ صاحب! د پای شیبې دي، که اخیري پیغام مو وړاندې کړئ؟

استاد یاسر:

زه ټولو مسلمانانو ته د جهاد بلنه ورکوم، ځکه دا د عزت، نصرت اوخلاصون لاره ده! زموږ په تیره پخوانۍ تجربه کې چې ډېرومسلمانانو به دا فکر کولو د غرب او امریکا په وړاندې دوی هیڅ لار نه لري، مګر صبر به کوي د هغوی د اوامرو مطابق به چلیږي! خو په اخیر کې دوی ولیدل چې د دغه امت ډیر لږ کسان کولای شي، چې یو څه جوړ کړي نو زه له دوی نه پوښتنه کوم، په دې پوښتنه کې مې ټول مسلمان ملت مخاطب دئ:

ټولو ته وایم، امیرانو ته، جنګیالیو ته؛ که چیرته اسامه، القاعده، طالبان او نور مجاهدین سره یو موټی شي، آیا غربي نړۍ به په موږ لوبې وکړي؟

نو څنګه نه یوموټی کېږئ؟

او په آخر کې مې له ټولو څخه دا غوښتنه ده، چې د قرآن او سنتو مطابق عمل وکړئ!

نطاق: په لیدو مو ډیر خوښ شوم شیخ صاحب له هر اړخیزو خبرو مو مننداوی!

و آخر دعوانا عن الحمد لله رب العالمین

مترجم استاذ: سیف الرحمن (مصعب) د نیل مرکز مدیر ۵/۱۳۴۴ هـ.ق ۹/۱۴۰۱ هـ.ش

Scanned by Camera Scanner

# In The Arresting Church

Translated by: Saifurahman Musab

کله چې زموږ قیادت د امریکایانو په لاس سقوط وکړ. نو رباني چې د پوهنتون استاد وو او په عقیده کې له الازهرنړیوال پوهنتون ماسټري لري، له ده څخه مې اورېدل چې له امریکایانو څخه یې غوښتل: په مجاهدینو ښه بمبار وکړي او لوی لوی بمونه پرې وغورځوي!

بل خواته مې له امیر المؤمنین څخه اورېدل چې امریکایانو ته یې ویل: هر څه چې کوئ ویې کړئ، موږ به هم په مقابل کې همغسې عمل درسره کووپه دوارو غوږو یې درسره واورئ!

نو ماته فکر پیدا شو، چې ته وګوره یو د پوهنتون استاد او په علم کې تخصص هم لري، په یوه ساده امتحان کې ناکام شو او دا بل (امیر المؤمنین) چې علمي سویه یې هومره لوړه نه ده لکه د هغه، مګر کامیاب شو؛ نو دلته زه یوه شي ته متوجه شوم: هغه دا چې زموږ د ټولنې د علمي او فرهنګي پلوه د تربیت تګلاره(علمي اسنادو) ته اعتبار ورکول دي.

پوهنتون یې لوستی؟ ماسټري یې کړې کنه؟ دوکتورا لري که یې نه لري؟ پروفیسور دئ، که نه دئ؟ غیر له دې چې ایمان ته یې پام وشي، چې په ایماني لحاظ څنګه دئ؟ دا د ایماني تربیې مقیاس زموږ په ټولنه کې هېڅ نشته.

یو سړی به د علمیت له اړخه د دوکتورا تر مرحلې رسېدلی وي، خو له ایماني پلوه به تر اوسه د منافقت تر مرحله نه وي وتلی. ...

طراح جلد: اکرام الدین سعیدی